د زده کولو او بښودلو د حلقو جدول

# قرض واپس کول

21 مئی 2026



# د زړه کولو او ښودلو د حلقو جدول

**(1):** پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې مختصر بیان: **5** منټه **(2):** دُعا یادول: **5** منټه

**(3):** [د خپلو اعمالو] جائزه: **5** منټه، ټول وخت: **15** منټه-

نن به د زړه کولو او ښودلو پهٔ **حلقو** کښې پهٔ **72 نیک اعمال** کښې **د یو نیک عمل** د **قرض واپس ورکولو** پهٔ باره کښې ګڼه ور معلومات درکولے شي او **د قرض واپس ورکولو پهٔ وخت لوستلے کیدونکې دُعا** به یادولے شي- پهٔ اخره کښې به د نیک اعمال رسالې نه اِجتماعي جائزه هم اخستے کیږي- اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡکَرِیم!

## د دُرُود شریف فضیلت

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** پهٔ ما باندې درود شریف لولئ، الله پاک به پهٔ تاسو باندې رحمت رالیږي- [1]

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## قرض واپس کول

امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِیَه د معاشرې د ګناهونو نه د پاکولو د پاره د اِسلامي خوئیندو، د اِسلامي ورونړو او د طالبِ علمانو د پاره د سوالونو پهٔ شکل کښې د نیک اعمال مختلفې رسالې جوړې کړې دي- نن به مونږ د 72 نیک اعمال رسالې نه د **نیک عمل نمبر: 41** پهٔ باره کښې زدکړه کوو-

**نیک عمل نمبر: 41** آیا نن تاسو د قرض پهٔ حالت کښې (د ادا کولو د وَس لرلو باوجود) د

[1] … جامع الصغیر، صفحه: 310، حدیث: 5032-

قرض درکوونکي د اجازت نه بغير **پهٔ قرض ورکولو کښې تاخير (ورستو والے) خو نهٔ دے کړے**، د دې سره سره مو عاريتاً (يعنې عارضي طور) اخستے شوے څيز د ضرورت پوره کيدو نه پس پهٔ ټاکلے شوي وخت کښې دننه واپس کړے؟

## پهٔ قرض ورکولو کښې تاخيرځهٔ ته وئيلے شي

د وَس لرلو باوجود پهٔ ټاکلے شوي وخت کښې پهٔ قرض ورکولو کښې د لم ليټ نه کار اخستل [چې نن به يې درکړم صبا به يې درکړم]دې ته **پهٔ قرض کښې تاخير** وئيلے شي-

## آيت مبارک

الله پاک فرمائيلي دي:

فَاِنْ اَمِنَ بَعْضُكُمْ بَعْضًا فَلْيُؤَدِّ الَّذِی اؤْتُمِنَ اَمَانَتَهٗ وَلْيَتَّقِ اللّٰهَ رَبَّهٗؕ

(پارہ:3، سورۂ البقرة: 283)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: او که ستاسو پهٔ يو بل اطمينان وي نو هغه (مقروض) چې امانتدار ګڼلے شوے وو هغه دې خپل امانت ادا کړي او د الله نه دې ويريږي کوم چې د هغهٔ رب دے-

دلته د امانت نه مُراد قرض دے- [1] د آيت مطلب دا شو چې قرضداري له پکار دي چې پهٔ قرض واپس کولو کښې د تاخيرنه کار نهٔ اخلي، د الله پاک نه دې ويريږي او قرض دې ادا کړي- [2]

## د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک

◈ څوک چې د وَس لرلو باوجود پهٔ قرض واپس کولو کښې د لم ليټ نه کار اخلي، (نو د څو ورځو پورې چې هغه قرض نهٔ ادا کوي) الله پاک پهٔ هره ورځ او شپه کښې د هغهٔ د

[1] … جلالين مع حاشيه صاوى، پارہ:3، سورۂ بقره، زير آيت:283، جلد:1، صفحه:209-

[2] … تفسير قرطبى، پارہ:3، سورۂ بقره، زير آيت:283، جلد:2، صفحه:894، ملتقطًا-

پاره ګناه لیکي۔[1] ◈ عاریتاً (یعنې په عارضي توګه) اخستے شوے څیز دې واپس کړے شي، (یعنې په عارضي توګه اخستے شوے) څناور دې واپس کړے شي۔ [2]

## د قرض د واپس کولو په باره کښې حکمونه

(1): قرض واپس کول فرض [3] او د وَس لرلو باوجود په قرض واپس کولو کښې د لم لیټ نه کار اخستل [4] یا خوړل یا بالکل هم نۀ ادا کول، حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے۔ [5] (2): د قرض ورکولو د پاره ګسب کول (یعنې مال ګټل) فرض دي۔ [6] (3): د چا نه چې قرض واخستے شو که هغه ژوندے وو نو هُم هغه ته به قرض واپس کول وي او که وفات شو، نو د هغوئي وارثانو ته به ورکول وي، که وارث میلاؤ نشي نو لټون دي یے وکړي، د لټولو حکم د هُغه وخته پورې دے د څو پورې چې د میلاویدوامید وي که میلاؤ نشي نو محتاجو مسلمانانو له به د هغۀ د طرف نه صدقه ورکول وي۔ [7] (4): که څوک د قرض واپس کولو وَس نۀ لري نو تاخیرجائز دے۔ [8] عام طور لیدلے شوي دي چې کله د حالاتو په وجه د قرض په واپس کولو کښې تاخیر کیږي نو خلق د قرض ورکوونکي نه ځان پټوي، دا انداز صحیح نۀ دے، که تاسو قرض نشی ورکولے نو د قرض ورکوونکي سره میلاؤ شئ او د هغۀ نه نور وخت واخلئ! دغه شان به په قرض کښې د تاخیر

1…شعب الایمان، باب فی ان یحب المسلم لاخیه…الخ، جلد:7، صفحه:530، حدیث:11232۔

2…سنن ابن ماجه، ابواب الصدقات، باب العاریة، صفحه:384 حدیث:2398۔

3…الحدیقة الندیة، جلد:1، صفحه:455۔

4…مرقاة المفاتیح، کتاب البیوع، باب الافلاس والانتظار، جلد:6، صفحه:107، تحت الحدیث:2907۔

5…فتاوی مفتی اعظم:5، صفحه:88۔

6…الحدیقة الندیة، جلد:1، صفحه:455۔

7…فتاویٰ مصطفویه، صفحه:429428، ملخصاً۔

8…مرقاة المفاتیح، کتاب البیوع، باب الافلاس والانتظار، جلد:6، صفحه:107، تحت الحدیث:2907۔

د ګناه نه هم بچ شئ او په معاشره کښې به مو رسوائي هم نۀ کيږي **(5)**: عاريت (يعني په عارضي توګه) اخستے شوے څيز بعينهٖ (چې څنګه اخستے شوے وي هم هُغه شان) واپس کول واجب دي۔ [1]

## د قرض نۀ واپس کولو نقصانونه

◈ د قرض نۀ واپس کولو سره محبتونه کميږي او په زړونو کښې فاصلې پيدا کيږي ◈ د حديثونو مطابق ◈ په قرض واپس کولو کښې د لم ليټ نه کار اخستونکے ظالم دے۔ [2] ◈ څوک چې د وَس لرلو باوجود قرض نۀ واپس کوي، د هغۀ په اعمال نامه کښې ګناهونه ليکلے کيږي، د څو پورې چې قرض ادا نکړي۔ [3] ◈ په قرض واپس کولو کښې د لم ليټ نه کار اخستل شيطاني کار دے۔ [4] ◈ د الله پاک په لاره کښې د شهيد شوي هره يوه ګناه به معاف شي د قرض نه علاوه۔ [5] ◈ څوک چې د قرض ورکولو نه بغير وفات شي د هغۀ په باره کښې يـې فرمائيلي دي: د مؤمِن ځان د قرض په وجه باندې معلق وي (يعني جَنَّت ته د تللو نه منع کولے شي يا د اوچتو درجو نه منع کولے شي) د دې پورې چې د هغۀ قرض ادا کړے شي۔ [6] ◈ که څوک د قرض ورکولو نه بغير وفات شو نو د قيامت په ورځ به د هغۀ نيکۍ قرض ورکوونکو ته ورکولے شي، د دريو پيسو د قرض په بدل کښې به 700 نـمونځونه د جَمعې سره ورکول وي۔ کله چې د هُغه قرض خوړونکي سره نيکۍ پاتې نشي نو د قرض ورکوونکو ګناهونه به د قرض اخستونکي په سر باندې اېښودے

1… درر الحکام شرح مجلة الاحکام، جلد3، صفحه82، دار الجيل۔

2… بخاري، کتاب في الاستقراض واداء الديون …الخ، باب مطل الغنی الظلم، صفحه:618، حديث:2400۔ ملخصًا

3… شعب الايمان، باب فی ان يحب المسلم لاخيه …الخ، جلد:7، صفحه:530، حديث:11232۔

4… الجامع الصغير، صفحه:204، حديث: 3405۔

5… مسلم، کتاب الامارة، باب من قتل فی سبيل الله …الخ، صفحه:754، حديث1886۔

6… ترمذي، کتاب الجنائز، باب ماجاء عن النبی انه قال … الخ، صفحه:280 حديث: 1081۔

کیږي او وور ته به غورځولے کیږي۔ [1]

## د قرض نهٔ واپس کولو د ګناه نه د بچ کیدو طریقې

◈ قناعت اِختیار کړئ! یعنې وړومبے خو دا کوشش اوکړئ! چې د چا نه څهٔ څیز وانخلئ، الله پاک چې څومره درعطا کړې ده، پهٔ هغې کښې د ګزارې کولو عادت جوړ کړئ او قرض صرف او صرف پهٔ هٔغه حالت کښې اخلئ کله چې د هغې نه بغیر بله لار نهٔ وي ◈ که خامخا قرض اخستل وي نو د هغې زر تر زره د واپس کولو کوشش اوکړئ! چې قرض یو بوج دے، د کوم پهٔ وجه چې اِنسان پهٔ معاشره کښې هم رسوا کیدے شي او جَنَّت ته د تللو نه هم منع کولے شي ◈ کله چې قرض اخلیٔ نو د هغې د واپس کولو پوخ نیت هم لازمي کوئ! پهٔ حدیثِ پاک کښې دي: د قرض اخستو پهٔ وخت چې د چا نیت د قرض د ادا کولو وي نو د قرض د واپس کولو لړ کښې به الله پاک د هغهٔ مدد اوکړي ◈ د مال محبت د زړهٔ نه اوباسئ! چې دا خراب محبت د ډیرو ګناهونو جرړه ده ◈ د خپلې ګټې او د خرچې نظام ښه کړئ! که پهٔ تاسو باندې د قرض ادا کولو ذِمه ده نو د هغې د ورکولو د پاره جدول جوړ کړئ! د هغې مطابق څهٔ نا څهٔ رقم اوباسئ! او زر تر زره د قرض د واپس کولو لار راوباسئ ◈ د قرض د واپس کولو د پاره اوراد او وظیفې کوئ! دې د پاره ډیر درودِ پاک وئیل ډیر فائده مند دے۔

[1] ... فتاویٰ رضویه، جلد:25، صفحه:69۔

## د ښودلو او زده کولو په حلقو کښې يادولو والا دُعا

## د قرض د واپس کولو په وخت لوستلے کيدونکې دُعا

اَللّٰھُمَّ اکْفِنِیْ بِحَلَالِکَ عَنْ حَرَامِکَ وَاَغْنِنِیْ بِفَضْلِکَ عَمَّنْ سِوَاکَ

**ترجمه:** اے الله پاکه! ما ته حلال رزق راعطا کړې او د حرامو نه مې بچ کړې او په خپل فضل او کرم سره مې د ځان نه علاوه د غيرو نه بے نيازه کړې-[1]

## د اِجتماعي جائزې طريقه (72 نيک اعمال)

### د روزانه 56 نيک اعمال:

(1): آيا ښه ښه نيتونه مو کړي؟ (2): آيا پينځه واړه نمونځونه مو د جَمعې سره ادا کړي؟ (3): آيا د هر نمونځ نه مخکښې مو د نمونځ دعوت ورکړے؟ (4): آيا د شپې مو سُوْرَۃُ الْمُلْك لوستلے يا اوريدلے؟ (5): آيا د هر نمونځ نه پس مو آيةُ الکرسی، تسبيحِ فاطمه، سُوْرَۃُ الِاخلاص لوستلے؟ (6): آيا د کنزُ الايمان نه مو 3 آيتونه يا مو د صِراطُ الجنان نه 2 صفحې د ترجمې او تفسير سره لوستلي يا اوريدلي؟ (7): آيا د شجرې اوراد مو لوستلي؟ (8): آيا 313 کرته مو دُرُود شريف لوستلے؟ (9): آيا سترګې مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (10): آيا غوږونه مو د ګناهونو نه بچ ساتلي؟ (11): آيا د فضول نظر نه په بچ کيدو سره مو نظر ښکته ساتلے؟ (12): آيا 12 منټه مو د مکتبة المدينه اِصلاحي کتاب لوستلے؟ (13): آيا د اذان او د اِقامت جواب مو ورکړے؟ (14): آيا د غصې علاج مو کړے؟ (15): آيا خپله جائزه مو اخستې؟ (16): آيا د خپل نګران تابعداري مو کړې؟

[1] ... مستدرک، کتاب الدعاء...الخ، باب دعاء قضاء الدين، جلد:2، صفحه:230، حديث:2016، مدنی پنج سورة، صفحه:207-

(17): آیا پهٔ تاسو او جي وئیلو سره مو خبرې کړې؟ (18): آیا پهٔ مکـتبة الـمدینه بالغان کښې مو لوستلي، یا مو ښودلي؟ (19): آیا د ماسخوتن د جَمعې نه پس پهٔ دوو ګینټو کښې کور ته رسیدلي یئ؟ (20) : آیا دوه ګینټې مو پهٔ دیني کارونو باندې لګولي؟ (21): آیا د سحر د نـمونځ د پاره مو راپاخول کړي؟ (22): آیا د نورو کورونو ته مو د کتلو نه ځان بچ کړے؟ (23): آیا پهٔ کور کښې مو درس ورکړے؟ (24) : آیا د جومات درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (25): آیا د سُنَّت مطابق مو جامې اغوستې دي؟ (26): آیا د زلفو د پریښودو پهٔ سُنَّت باندې مو عمل کړے؟ (27): آیا یو موټے ګیره مو پریښودې؟ (28) : آیا د ګناه کولو پهٔ شکل کښې مو فوراً توبه کړې؟ (29): آیا د سُنَّت مطابق مو خوراک کړے؟ (30): آیا مسلمانانو ته مو سلام کړے؟ (31) : آیا څهٔ نا څهٔ مو پهٔ سُنَّتو باندې عمل کړے؟ (32): آیا د ماسپښین سنتِ قبلیه مو د فرضو نه مخکښې ادا کړي؟ (33): آیا تهجد یا صلوٰةُ اللیل مو ادا کړي؟ (34): آیا د اَوَّابِیْن یا اِشْرَاق او څاخت نـمونځ مو کړے؟ (35):آیا د مازدیګر یا د ماسخوتن سُنتِ قبلیه مو ادا کړي؟ (36): آیا پهٔ 12 دیني کارونو کښې مو د یو دیني کار ترغیب ورکړے؟ (37) : آیا د نورو نه غوښتلے شوي څیزونه خو مو اِستعمال کړي نهٔ دي؟ (38): آیا د دروغو، غیبت او چغلۍ نه مو ځان ساتلے؟ (39): آیا د څهٔ وخت د پاره مو مَدَني چینل کتلے؟ (40): آیا ذاتي دوستي خو مو نهٔ ده کړې؟ (41): آیا پهٔ وخت باندې مو قرض ادا کړے؟ (42): آیا د عاجزۍ داسې الفاظ خو مو نهٔ دي وئیلي کوم چې زړهٔ نهٔ دي منلي؟ (43): آیا د صفایۍ او سلیقې خیال مو ساتلے؟ (44): آیا د مسلمانانو د عیبونو پرده مو ساتلې؟ (45): آیا د سحر د نـمونځ نه پس مو د تفسیر اوریدو /بیانولو پهٔ حلقه کښې شرکت کړے؟ (46): آیا د څهٔ نا څهٔ جائز کار نه مو مخکښې بِسْمِ الله وئیلي؟ (47): آیا چوک درس مو ورکړے یا اوریدلے؟ (48): آیا مور پلار او پیر او مرشد ته مو

ایصالِ ثواب کړے؟ (49): آیا د اِسْرَاف نه مو ځان بچ کړے؟ (50): آیا د ټریفک د قوانینو پابندي مو کړې؟ (51): آیا د تنظیمي طریقې مطابق مو مسئله حل کړې؟ (52):آیا د ژبې د ګناهونو نه مو ځان بچ کړے؟ (53): آیا د فضول خبرو نه مو ځان بچ کړے؟ (54): آیا د ټوقو ټقالو، خندا، زړۀ ازارولو او پۀ کړس خندا نه مو ځان ساتلے؟ (55): آیا عمامه شریف مو پۀ سر کړې؟ (56): آیا د مور پلار اَدَب مو کړے؟

## د قُفلِ مدینه کارکردګي

◈ پۀ لیکلو خبرې کول 12 کرته ◈ پۀ اِشاره باندې خبرې کول 12 کرته ◈ پۀ سترګو کښې د سترګو اچولو بغیر خبرې 12 کرته-

## هفته وار 9 نیک اعمال

(57): آیا د اِسلامي خوئیندو هفته وارې اِجتماع ته مو ځوک اِسلامي خور د کور نه لیږلې؟ (58): آیا هفته واره مَدَني مُذاکَرَه مو کتلې یا اوریدلې؟ (59): آیا پۀ هفته واره اِجتماع کښې مو د اول نه تر اخره پورې شرکت کړے؟ (60): آیا یومِ تعطیل اِعْتِکَاف مو کړے؟ (61): آیا د مریض یا غم زپلې تپوس یا غم خورې او د چا پۀ وفات کیدو مو تعزیت [لاس نیوه] کړې؟ (62): آیا پۀ هفته کښې مو پۀ یوه ورځ کښې روژه نیولې؟ (63): آیا هفته واره رساله مو لوستلې یا اوریدلې؟ (64): آیا علاقائي دوره مو کړې؟ (65): آیا مخکښې راتلونکي او اوس د نۀ راتلونکو اِسلامي ورونړو مو د دیني ماحول سره تړون پیدا کړو؟